# د غوثِ پاک
# نصیحتونه

11-November-2021



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د غوثِ پاك نصيحتونه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! چې كله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چې جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي.

ياد ساتئ! جُمات كښې د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: كوم بنده چې محبت او شوق سره په ما باندې درې ځله په ورځ كښې او درې ځله په شپه كښې دُرُودِ پاك لولي، په **الله** پاك باندې حق دے چې د هغه د هغه ورځې او شپے ګناهونه مُعاف كړي.[1]

[1]...معجم الكبير، جلد:8، صفحه:69، حديث:15316۔

اے عاشِقانِ رسول! كه مونږه لږه تَوجُّه اوكړو نو په خومره آسانئ سره د خپلو ګناهونو مُعاف كولو ذريعه جوړولے شو، مثلاً د سحر لمُونځ د جَمعې سره ادا كړو، سر ښكته كړو او ستركې پټې كړو او د شين شين ګنبد تَصَوُّر قائم كړو او درې ځله دُرُودِ پاك اولولو، دغه شان د شپے اوده كيدو وخت كښې په بستره باندې مخ په قبله سر ښكته كړو او ستركې پټې كړو او د شين شين ګنبد تَصَوُّر كولو سره سره درې ځله دُرُودِ پاك اولولو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دغه ورځې او شپے ګناهونه به مو مُعاف شي، خو ياد ساتئ چې! ګناهِ كبيره په رښتينې توبه كولو سره مُعاف كيږي، دغه شان كه قضا لمُونځونه، قضا روژے، د بندګانو مالي يا بدني حقوق د چا په ذِمه وي نو د هغې ادا كول لازمي دي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.(1)

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز كار كښې چې خومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❀ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوكړئ او نور دا نيتونه اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❀ چې خومره كيدے شي د دِډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ د علم زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم

1 ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسُولو كوشش كووم.

په سيپارۀ 21، سورۀ لُقمان، آيت: 15 كښې **الله** پاك ارشاد فرمائي:

وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَیَّ ۚ | [مَفهُوم] ترجمۀ كنزُالايمان: او د هغه په لاره لاړ شه چا چې زما طرف ته رجوع راوړه.

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په دې آيت كښې مونږ ته د هغه خلقو په لاره د تللو حكم راكړے شوے دے، څوك چې **الله** پاك طرف ته رجوع راوړونكي يعنې مكمله فرمانبرداري كوونكي دي.

❁ يقيناً په دې دُنيا كښې د ټولو نه زيات **الله** پاك طرف ته رجوع كوونكي هستي زمونږ خوږ آقا مكي مَدني مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے ❁ بيا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په واسطه سره صحابۀ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان هم **الله** پاك طرف ته رجوع كوونكي دي ❁ اوليائے كرام هم **الله** پاك طرف ته رجوع كوونكي دي ❁ اِمامِ اعظم اَبوحنيفه هم **الله** پاك طرف ته رجوع كوونكے دے ❁ داتا گنج بخش صاحب ❁ خواجه مُعينُ الدِّين اجميري ❁ بابا فريدُ الدِّين گنج شكر ❁ اعلٰی حضرت عَلَيْهِمُ الرَّحمَه غرض ټول اوليائے كرام **الله** پاك طرف ته رجوع كوونكي دي.

نو بيا به د آيت مطلب دا شي ❁ اے انسانانو! زمونږ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لاره روان شئ! ❁ د صحابۀ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په لاره روان شئ! ❁ د عاشقانِ رسول عُلمائے كرامو په لاره روان شئ! ❁ د اوليائے كرامو په لاره روان شئ....![1]

---

[1]...تفسير قرطبى، پاره:21، سورۀ لقمان، زيرِ آيت:15، جلد:7، صفحه:42 ماخُوذاً۔

ولے؟ ځکه چې هم دا خلق په حقه لاره باندې روان دي، هم دا خلق د جَنَّت په لاره روان دي، هم دا خلق د **الله** پاك په لاره روان دي، هم دا خلق په صراطِ مُستقيم (يعنې نيغه لاره) باندې روان دي،

چې كله مونږه دې پاكيزه سيرتونو نه رنړا حاصله كړو، د هغوئي فرامين اولولو، ځان پرې پوهه كړو، او عمل پرې اوكړو نو د هغوئي په بركت به مونږه هم د نيغې لارې مُسافِر جوړ شو او اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د هغوئي په نقشِ سيرت باندې به روان شو او آخر كار جَنَّت ته به اورسو.

اے عاشِقانِ رسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَبِيْعُ الْآخِر مياشت شروع شوي ده، په دې مباركه مياشت كښې د يولسمې ځوان، پيرانِ پير، غَوثِ اعظم، حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لويه يولسمه مناوهلے كيږي. يقيناً شهَنشاهِ بَغداد، حُضُورِ غَوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم **الله** پاك طرف ته رجوع كوونكے، نيك اعمال كوونكے، د **الله** پاك او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مكمل فرمانبرداري كوونكے دے. اوس چې كوم آيتِ كريمه مونږه واوريدلو، په دې آيت كښې وركړې شوې حكم باندې د عمل كولو په نِيَّت به نن مونږه د سركارِ غَوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پاك سيرت يو څو واقعات او د هغوئي يو څو نصيحتونه د اوريدلو سعادت حاصلوو. **الله** پاك دِ مونږ ته غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د محبت ساتلو، د هغوئي د سيرت نه د رنړا حاصلولو او د هغوئي په تعليماتو باندې د عمل كولو توفيق راعطا كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُختصر تَعارُف

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مشهور و معروف هستي ده، د عاشقانِ رسول يو شمير داسې هم دے كوم چې خپل اولاد ته د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه محبت په وركوالي كښې

ورکوي ❁ د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نوم مبارك: **عبدُ القادر** او کُنیت: **اَبُو محمد** دے ❁ **مُحْیُ الدِّین** (یعنې دین ژوندے کوونکے) او **غَوثُ الثَّقَلَیْن** (یعنې د پیریانو او انسانانو غوث یعنې مددګار) د هغوئي مشهور القاب دي. ❁ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 470 هجرئ کښې په جیلان کښې پیدا شو ❁ هغوئي 91 کاله په دُنیا کښې ژوند تیر کړو ❁ 561 هجرئ کښې وفات شولو ❁ حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اولیاؤ ولي دے، د پیرانو پیر، سُلطانُ الاولیاء دے ❁ خنګه چې د هغوئي په ولایت کښې اوچته درجه ده ❁ دغه شان په عِلم کښې هم د اوچت مقام مالِك دے ❁ هغوئي په خپله زمانه کښې د ټولو نه غټ مُفتي وو ❁ باقاعده فتوے به ئې هم لیکلې ❁ او په مدرسه کښې به ئې هم درس ورکولو.

راځئ چې د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر زیات سبق آموز نصیحتونه واورو:

## (نصیحت:1) په هر مسلمان باندې درې کارونه لازم دي

د حُضُورِ غوثِ پاك، شیخ عبدُالقادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو کتاب **فُتُوحُ الْغَیب** دے. په دې کتاب کښې حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نصیحت کوي، فرمائي چې: په هر مسلمان باندې په هر حال کښې (یعنې شپه، ورځ، یخنئ، ګرمئ، خوشحالئ، غم، مصروفیت، فراغت، غرض چې تر څو پورې ئې په بدن کښې روح وي، عقل ئې سلامت وي، ساه پکښې وي تر هغه وخته پورې په هر مسلمان باندې) درې خبرې لازم دي: (1) **اَمْرٌ یَمْتَثِلُهٗ** د شریعت حکم چې په هغې باندې عمل اوکړي، (2) **نَهْیٌ یَجْتَنِبُهٗ** د شریعت منع کړے شوې خبرې چې د هغې نه ځان بچ اوساتي (3) **قَدْرٌ یَرْضٰی بِهٖ** تقدیر چې په هغې باندې همیشه راضي اوسي.

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: ❁ د مسلمان ادنٰی حالت دا دے چې د

هغه يو وخت هم په دې دريو خبرو كښې د يوې خبرې نه خالي نه وي ﷺ د هغه زړه تل د دې دريو خبرو پخه اراده كوي ﷺ بنده دِ ځان سره دا درې خبرې بيانوي ﷺ او د خپل بدن اندامونه دِ هر وخت په دې كښې مصروف ساتي.[1]

اے عاشِقانِ رسول! څومره مختصر او زبردست نصيحت دے. شيخ عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې په شرح كښې فرمائي: حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په دې مختصر نصيحت كښې د پوره دِين خُلاصه بيان كړې ده.[2]

دلته كمال اوګورئ! بعض خلق وائي چې: مولانا صاحب! مونږه خو دُنيا دار خلق يو، چې څومره كيدے شي، لمُونځونه ادا كوو، ذِكر و اَذكار كوو، حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا وسوسه هُم ختمه كړې دې، فرمائي: په دې دريو خبرو باندې عمل كول (يعني **1**: د **الله** پاك احكام ادا كول، **2**: د هغه منع كړو خبرو نه منع كيدل، **3**: او په تقدير باندې راضي اوسيدل، په دې دريو خبرو باندې عمل كول) دا د مسلمان ادنٰی حالت دے. مطلب دا دے چې هر هغه كس چا چې كلِمه لوستلې ده، كه هغه دُنيادار دے، كه ديندار دے، كه سوداګر دے، كه وكيل دے، كه ډاكټر دے، كه ډرائيور دے، كه مالك دے، كه نوكر دے، كه بادشاه دے او كه د ټولو نه غريب كس دے، چا چې دا كلِمه لوستلې ده، چا ته چې د اِيمان دولت نصيب شوے دے، په هغه باندې لازم دي چې په دې دريو خبرو باندې هميشه عمل كوي.

دلته په يوه بله نُكته باندې غور اوكړئ! عام طور زمونږ په ذِهن كښې ډير قِسمه خيالونه راځي، مونږه ډيرې منصوبے جوړوو، مونږه په زړه زړه كښې غټ خوبونه وينو بلكه د خلقو ګڼړ شمير په لَمانځه كښې هم په دُنياوي سوچونو كښې مصروف وي،

---

[1] ...فتوح الغيب، صفحه:17۔

[2] ...شرح فتوح الغيب، صفحه:10 ماخوذًا۔

اوس د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه تعليم اوګورئ! هغوئي فرمائي: فَلْيُحَدِّثْ بِهَا نَفْسَهٗ يعنې انسان له پکار دي چې دا درې خبرې د ځان سره يادوي.

مطلب دا دے څنګه چې مونږه په دُنياوي مُعامَلاتو کښې خوبونه وينو، چې مال به کوم ځائے ګټو؟ څه څه به خورو؟ که يو دُکان مو وي نو دويم دُکان به کله جوړوو؟ يو کاروبار مو کامياب چليږي بل به څنګه شروع کوو؟ دغه شان مونږ هر وخت په څه نه څه سوچ کښې اخته يُو، د دُنياوي ترقئ خوبونه وينو، دا سوچونه پريږدئ! دا سوچ کوئ چې زه د **اللّٰه** پاك په احکامو څومره عمل کووم، که څه کمے پکښې دے نو هغه کمے به څنګه پوره کووم؟ دا سوچ اوکړئ چې **اللّٰه** پاك د کومو کارونو نه منع کړي ده زه د هغې کارونو نه څومره منع يم، که څه کمے پکښې دے نو هغه کمے به څنګه پوره کووم؟ تاسو د دې خبرو مُتَعَلِّق سوچ کول شروع کړئ، دا کارونه کول شروع کړئ، که **اللّٰه** پاك اوغواړي نو ستاسو دُنيا به هم بهتره شي او آخرت به مو هم ښائسته شي.

اے عاشِقانِ غوثِ اعظم! راځئ چې د حُضُورِ غوثِ پاك، شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې نصيحت باندې د عمل کولو نِيَّت اوکړو چې دا درې خبرې په خپل ذِهن کښې کښينوو! صرف درې خبرې دي: (1) د شريعت په احکامو عمل کول دي (2) شريعت چې څه منع کړي دي د هغې نه منع کيدل دي (3) او تقدير باندې هميشه راضي اوسيدل دي، په تقدير باندې راضي اوسيدلو نه مُراد دا چې بے صبري به نه کوو، که مُصِيبَت يا پريشاني راشي نو شور غوغا به نه کوو، فريادونه به نه کوو بلکه د **اللّٰه** پاك په رِضا باندې به راضي اوسيږو. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو ته په دې نصيحت باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ژوند مبارک مُختصر خُلاصه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 91 كاله ظاهري ژوند په دې دُنيا كښې اوسيدلو، علمائے كرامو د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 91 كاله مبارك ژوند په دريو حِصّو كښې تقسيم كړے دے:

(1) وړومبئ حِصَّه: د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پيدائش نه واخله تر 18 كالو پورې، په دې موده كښې هغوئي په خپل آبائي وطن جيلان كښې اوسيدلو، دلته هغوئي ابتدائي تعليم حاصل كړو. (2) دويمه حِصَّه: د 18 كالو نه واخله تر 51 كاله پورې، دا ټول 33 كاله جوړيږي، په دې موده كښې حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بَغداد كښې اوسيدلو او دلته ئې علمِ دِين حاصلولو، په دې دوران كښې هغوئي ډيرې مجاهدے [يعنې د نفس پاك كولو د پاره چيلے] هم اوكړې، هغوئي به ځنګلونو ته تشريف وړلو، په يواځې ځائے كښې به ئې د **الله** پاك عبادت كولو او په ذِكر و فِكر كښې به مَصروف اوسيدلو، (3) دريمه حِصَّه: د 51 كالو نه تر 91 كاله پورې دا ټول 40 كاله دي. په دې موده كښې حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باقاعده د درس و بيان سلسله شروع كړه، د نيكئ دعوت ئې عام كړو، د علمِ دِين رنړا ئې خوره كړه، د هدايت شمعې ئې روښانه كړې، خلقو ته ئې د دِينِ حق لاره اوښودله، سُنتونه ئې عام كړل او په زرګاؤ بےلارې خلق ئې د نيغې لارې مُسافِر جوړ كړل.

د كمال خبره دا ده چې د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ژوند مبارك د دې درې واړو مرحلو شروع د غيبي اشارو او زِيرو نه شوې وه. چنانچه

## د پيدائش په شپه زيرے

په كومه شپه چې غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پيدا شو، په هغه شپه د هغوئي والدِ محترم حضرت ابُو صالح موسٰى جنګي دوست رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په خوب كښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته د ځوئ مباركي وركړه او دا

زيرے ئې ورته واورولو: ”يَااَبَا صالِحِ اَعْطَاکَ اللّٰهُ اِبْنًا هُو وَلِّي وَ مَحْبُوْبِيْ وَ مَحْبُوبُ اللّٰهِ“ اے ابوصالح! **الله** پاك تاسو ته ځوئ عطا کړے دے، ستاسو دا ځوئ زما دوست دے، زما محبوب دے او د **الله** پاك هم محبوب دے. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور اوفرمائيل: **وَسَيَكُونُ لَهٗ شَاْنٌ فِي الْاَوْلِيَاءِ وَ الْاَقْطَابِ كَشَاْنِيْ بَيْنَ الْاَنْبِيَاءِ وَ الْمُرْسَلِيْن** يعني (اے ابوصالح!) د اوليائے کرامو په مينځ کښې به ستاسو د ځوئ داسې شان وي څنګه چې په انبياء و مُرسلينو عَلَيْهِمُ السَّلَام کښې زما شان و عظمت دے.[1]

غوثِ اعظم دَرمیانِ اَولیا | چُوں مُحَمَّد درمیانِ انبیاء

**ترجمه:** د اولياءُ الله په مينځ کښې غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه داسې دے څنګه چې د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام په مينځ کښې د مُحَمَّد مُصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دے.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا وو د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پيدائش په وخت کښې زيرے۔

بيا چې کله هغوئي د 18 کالو شو نو هغوئي ته يوه غيبي اشاره ميلاؤ شوه، چنانچه:

## غوئي په انساني ژبه کښې خبرې اوکړې

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پخپله فرمائي: د حج ورځې وے، يو ځل زه اتفاقاً ځنګل ته لاړم، هغه وخت يو غوَيا زما نه مخکښې مخکښې روان وو، ناڅاپه هغه غوئي زما طرف ته اوکتل او اوئې وئيل: اے عبدُالقادر! **مَالِهٰذَاخُلِقْتَ** تاسو د دې د پاره نه ئې پيدا کړے شوي، غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د غوَئي نه مې چې داسې (انساني ژبه کښې) خبرې واوريدلې نو زه اُويَريدم او کور ته راغلم، بيا زه د خپل کور چهت ته اوختلم نو ما ته د

---

[1] ...سيرتِ غوث الثقلين، صفحه:55۔

خپل کور د چهت (يعني د جيلان شريف) نه د عرفات ميدان ښکاره شو، ما په ميدانِ عرفات کښې حاجيان ولاړ اوليدل.

د دې نه پس زه د خپلې مور په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې ورته اوکړو چې: مورې محترمې! ما د **الله** پاك په لاره کښې وقف کړئ! ما ته بَغداد ته د تللو اجازت راکړئ چې زه هلته عِلمِ دِين حاصل کړم او د نيکو خلقو زيارت اوکړم. مور راته اوفرمائيل: بچيه! زه تا صرف د **الله** پاك د رِضا د پاره د ځان نه جُدا کووم، بيا به دِ د قيامت په ورځ وينم.[1]

اے عاشِقانِ رسول! دا وو د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سيرت د دويمې مرحلے ابتداء. د والده صاحبه نه ئې اجازت واخستلو او بَغداد ته ئې تشريف يوړلو او 33 کالو پورې علمِ دين زده کولو کښې او مجاهدات کولو کښې مصروف وو، په ځنګلونو کښې به ئې يواځې د **الله** پاك عبادت کولو. چې کله ئې عمر مبارك 51 کاله شو نو حکم ورته ميلاؤ شو او د هغوئې د ژوند مبارك د دريمې مرحلے ابتداء اوشوه:

## د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عنايات او مهربانئ

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ ما ته د ماسپښين د لَمانځه نه مخکښې د بيدارئ په حالت کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے زما بچيه! ته وعظ و نصيحت ولے نه کوے؟ ما عرض اوکړو: حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! زه يو عجمي سړے يم، د بَغداد عربئ ژبه کښې ماهرو خلقو ته زه څنګه بيان اوکړم؟ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خُله بيرته کړه! ما خُله بيرته کړه، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووه ځله زما په خُله کښې خپلې لاړې مبارکې واچولې او اوئې فرمائيل: زه! اوس وعظ کوه او خلقو ته د نيکئ دعوت

---

1 ...بهجة الاسرار، صفحه:167۔

وركړه.

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بيا د ماسپښين د لَمانځه نه پس ما ته د اسلام څلورم د خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ديدار نصيب شو، هغوئي زما په خُله كښې شپږ ځله لاړې مباركې واچولې، او اوئې فرمائيل: وعظ و نصيحت كوه.[1]

د هغې نه پس حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باقاعده درس و بيان او د نيكئ دعوت وركول شروع كړو او د 40 كالو پورې ئې مسلسل د نيكئ دعوت عام كولو.

## د درس و بيان مُتَعَلِّق د غوثِ پاك معمول

❁ حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په هفته كښې درې ورځې بيان فرمائيلو ❁ اِبراهيم بِن سَعد فرمائي: حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د عُلمائے كرامو لباس اغوستلو او په اوچت ځائے (مثلاً منبر وغيره) به كښيناستلو او بيان به ئې كولو ❁ حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په شروع كښې به زما په بيان كښې دوه يا درې كسان كښيناستل، بيا په قلاره قلاره د خلقو ګڼړه شروع شوه، خلق به د لرې لرې نه په اسونو، قچرو او اوښانو وغيره باندې سواره د بيان اوريدلو د پاره راتلل، هغه وخت به تقريباً د 70 زره كسانو اجتماع كيدله (وروسته د دې اجتماع د شُركاؤ شمير نور هم زيات شوے وو)[2]

❁ د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده حضرت عبدُالوهاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په محفل كښې به غټ غټ علمائے كرام او مشائخ حاضريدل ❁

---

[1] ...بهجة الاسرار، صفحه:58۔

[2] ...بهجة الاسرار، صفحه:177۔

په هغوئي كښې 400 هغه علمائے كرام هُم وو چې باقاعده كاغذ او قلم به ئې ځان سره راوړل او د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرامين او ارشادات به ئې ليكل.[1] ۞ شيخ عُمر كيماني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: كله داسې نه دي شوي چې غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان كړے وي او په محفل كښې يو كس هم توبه نه وي كړي. د هغوئي د بيان په اوريدلو به د يو نه يو كس توبه كوله او غير مسلمو به كلمه لوستله او مسلمانيدل به.[2]

## عيسائي پادري اسلام قبول كړو

يو ځل سِنان نومي يو عيسائي پادري د حُضُورِ غوثِ پاك، شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په محفل كښې حاضر شو، د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بيان نه پس هغه په اجتماع كښې پاڅيدلو، او اوئې وئيل: زه د يَمَن اوسيدونكے يم، زما په زړه كښې د حق نُور پيدا شو او ما د اسلام قبلولو اراده اوكړه، ما غوښتله چې د يمن د افضل او اعلٰى كس په لاس اسلام قبول كړم. په دې سوچ كښې ووم چې ماله خوب راغے، ما ته په خوب كښې د الله پاك د نبي حضرت عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام ديدار نصيب شو، حضرت عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: اے سِنان! بغداد ته لاړ شه...! او د شيخ عبدُالقادر جيلاني (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) په لاس اسلام قبول كړه، دې دَور كښې په دې زمكه باندې هغوئي د ټولو خلقو نه افضل و اعلٰى دي. بيا هغه كلمه اولوستله او اسلام ئې قبول كړو.[3]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ۞۞۞ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشِقانِ اولياء! تاسو اوليدل! چې د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانونو به څنګه

---

1 ...بهجة الاسرار، صفحه:184۔
2 ...قلائد الجواہر، صفحه:93۔
3 ...بهجة الاسرار، صفحه:185۔

انقلاب راوستلو، خلق به د هغوئي د بیان نه ډېر زیات مُتاَثِّر کیدل، د خلقو په زړونو کښې به د عشقِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شمعې روښانه کیدلې، په زړونو کښې به ئې خوفِ خُدا پیدا کیدلو، د هغوئي د بیان په اوریدلو به خلق په خپلو ګناهونو پښیمانه کیدل او توبه به ئې اوکړه نیك انسانان به جوړ شول. هغه عاشقانِ رسول څومره خوش نصیبه دي کوم چې د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول سره وابسته دي او د درس وبیان سعادت حاصلوي. اللّٰه پاك دِ مونږ ته هم د نیکئ دعوت عام کولو نه ختمیدونکې جذبه رانصیب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

راځئ چې! د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دغه انقلابي بیانونو نه د عِلم و حکمت او نصیحت مَدَني ګلونه د اوریدلو سعادت حاصل کړو:

## (نصیحت: 2) د اللّٰه پاك د محبوب جوړولو عمل

عَزَّوَجَلَّ عَزَّوَجَلَّ جُمادَی الآخِر، رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْه رسولُ اللّٰه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْه هجري کښې حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په خپله مدرسه کښې بیان اوکړو، په دې دوران کښې هغوئي اوفرمائیل: اے مالدارانو! که د دُنیا او آخرت خیر غواړئ نو د خپل مال په ذریعه د غریبانو مدد اوکړئ![1] بیا حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه یو حدیث بیان کړو چې: د اللّٰه پاك آخري نبـي، محمدِ عَرَبِی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: خلق د اللّٰه پاك عیال دي، د اللّٰه پاك زیات محبوب هغه دے څوک چې د اللّٰه پاك عیال ته زیاته فائده رَسَوونکے وي.[2]

**د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د مبارك بیان وضاحت:** عِیال د عَول نه جوړ دے، د دې معنٰی ده محتاجي. هغه خلق د کومو نَفقه، خرچ وغیره چې په انسان باندې لازم وي، مثلاً

1 ...فتح الرحمٰن، صفحه: 127۔

2 ...موسُوعه ابنِ ابی دُنیا، کتاب: قضاء الحوائج، جلد: 4، صفحه: 159، حدیث: 24۔

ښځه، اولاد وغيره ته د انسان عيال وئيلے كيږي. حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې په خپل بيان كښې كوم حديث ذِكر كړے دے، په دې كښې ټولو انسانانو ته **الله** پاك خپل عيال وئيلي دي. مطلب دا شو چې ټول انسانان د **الله** پاك بندګان دي، د هغه محتاجه دي، **الله** پاك د ټولو د رِزق ذِمّه په خپل كرم اخستي ده، **الله** پاك ټولو ته رِزق وركوي، د ټولو پالنه كوي. او د **الله** پاك په نِزد زيات خوښ، زيات محبوب هغه دے څوک چې د **الله** پاك عيال (يعنې بندګانو) ته زياته فائده رَسَوونكے وي. علامه مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: خلقو ته د نيكۍ دعوت وركول، د **الله** پاك لارې طرف ته رابلل، خلقو ته علم دِين زده كول، خلقو سره د نرمۍ سلوك كول، په خلقو رحم كول، مهرباني كول، په هغوئي باندې خپل مال خرچ كول، غرض: (د شريعت په دائره كښې) دِيني يا دُنياوي مُعاملاتو كښې خلقو سره نيكي كول، دا ټولو خلقو ته نفع رَسَولو كښې شامِل دي.[1]

اے عاشِقانِ رسول! د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې مبارك بيان او ذِكر شوي حديثِ پاك نه معلومه شوه چې د خلقو مدد كول، د غريبانو، مسكينانو، يتيمانو سره همدردي كول، هغوئي ته فائده رَسَول د الله پاک د محبوب جوړولو والا عَمَل دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پخپله هم ډير همدردي كوونكے، ډير زيات مهربانه او زړه سواندے وو.

## د يو پريشان حاله غريب مدد كول

ابُو عبدُ الله محمد بِن خِضر حُسيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روايت دے چې يوه ورځ سركارِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو پريشان حاله فقير اوليدو، يو مسلمان ئې چې د تكليف او غم

1 ...فيض القدير، جلد:3، صفحه:674، زيرِ حديث:4135۔

په حالت کښې اوليدو نو غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بے قراره شو او تپوس ئې ترينه اوکړو: **مَا شَاْنُكَ** يعنې په تا څه شوي دي؟ فقير په جواب کښې عرض اوکړو: زه په دريائے دجله پورې وتل غواړم خو پيسے راسره نشته، مَلَّاح (يعنې کشتئ چلوونکے) د کرائے نه بغير خوك په کشتئ کښې نه کښينوي. د مَلَّاح په دې سُلُوک زما زړه مات شو، که زما سره پيسے وے نو زه به نه مايوسه کيدم.

راوي وائي: فقير لا خپله خبره پوره کړې نه وه چې يو کس په بارگاهِ غوثِيَّت کښې حاضر شو، هغه د غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په خدمت کښې يوه تيلئ بطورِ نذرانه پيش کړه، په هغه تيلئ کښې 30 ديناره وو، غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هغه 30 ديناره ټول هغه غريب ته ورکړل او ورته ئې اوفرمائيل: دا ټول دينارونه مَلَّاح ته ورکړه او ورته اووايه چې بيا د پاره د کوم غريب په درياب باندې پورې باسلو نه اِنکار مه کوه.[1]

## غريب په شپه شپه کښې مالدار شو

د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د شهزاده شيخ عبدُالرَّزاق رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بيان دے: يو ځل سرکارِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د حج په سفر روان شو، ډير مريدان او خادمان ورسره وو، په لاره کښې يو کلے راغے، چې نوم ئې **حِلَّه** وو. غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په هغه کلي کښې د حصاريدلو او هلته د شپے تيرولو اراده اوکړه . خادم ته ئې حکم اوکړو چې په دې کلي کښې د ټولو نه غريب کور اوګوره، په لټون لټون د هغوئي نظر په يو زوړ وران ويژاړ غوندې کور باندې پريوتلو، په هغې کښې يو بوډا او بوډئ او يوه د هغوئي ماشومه لُور اوسيدل. په کور کښې نور څه سامان نه وو، ډير غريبان خلق وو، خادم بيرته راغلو او غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته ئې د هغه کور په باره کښې خبر ورکړو نو غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د

1 ... بهجة الاسرار، صفحه:199۔

شپې تيرولو د پاره هغه كور ته تشريف يوړلو، اوَّل ئې سلام اوكړو، بيا ئې په هغه كور كښې د شپې تيرولو اجازت اوغوښتلو.

د هغه غريب خو قسمت رابيدار شو چې حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه پخپله هغه كور ته تشريف يوړلو، هغه بوډا كس په ډير ادب سره حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه ته د حصاريدلو د پاره خپل كور پيش كړو. حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه د خپلو خادمانو سره هلته قيام اوكړو.

حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه څه معمولي شخصيت نه وو، د هغوئې اوچت مقام او نوم وو، د لرې لرې پورې مشهور وو، دا خبر په حِلَّه كلي كښې خور شو چې دلته حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه تشريف راوړے دے. د هغه كلي مشائخ او مالداران خلق د حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په خدمت كښې حاضر شُو او درخواست ئې اوكړو: جناب دا زوړ كور دے، دلته به تاسو ته تكليف وي، تاسو زمونږ كور ته تشريف راوړئ، خو هغوئې منظوره نه كړه، او په هغه غريب كور كښې ئې حصاريدل خوښ كړل، آخر علماء و مشائخو او مالدارانو خلقو دلته د حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه په بارګاه كښې نذرانے پيش كول شروع كړې، چا چيلۍ راوستله، چا ميښه راوستله، چا سره زر، سپين زر او غله راوړله، په لږ ساعت كښې د هغه غريب كور د نذرانو نه ډك شو.

حُضُورِ غوثِ پاك رَحمَةُ اللهِ عَلَيه هغه ټول تحائف، مال و دولت هغه غريب كس ته وركړل، هلته ئې شپه تيره كړه او په سفر روان شو،

شيخ عبدُ الرَّزاق رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: دوه كاله پس زه بيا هغه كلي ته اِتِّفاقاً لاړم نو ما اوليدل چې هغه غريب كس كوم چې دوه كاله مخكښې د كلي د ټولو نه غريب انسان وو، اوس هغه د كلي د ټولو نه لوئ مالدار جوړ شوے دے، هغه اووئيل: زما دا ټول مال

و دولت د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د هغه يوے شپے د عنايتونه بركت دے.[1]

اے عاشِقانِ رسول! تاسو اوليدل! حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه څنګه د غريبانو مدد او همدردي كوونكے وو او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مصيبت وهلي اُمَّت څنګه درد لرونكے وو، يقيناً كه هغوئي غوښتلے نو د يو مالداره انسان سره به ئې قيام كړے وے، د هغوئي د پاره به د اوسيدلو اعلٰى انتِظام شوے وے، خو هغوئ د يو غريب په كور كښې قيام كول خوښ كړل او شان ئې اوګورئ چې حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د كلي د ټولو نه غريب انسان په كور كښې صرف يوه شپه تيره كړه او هغه ئې د كلي د ټولو نه مالدار انسان جوړ كړو. كاش چې! د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په بركت مونږ ته هم غريبانو سره د همدردئ او خيرخواهئ جذبه را نصيب شي.

## د غمژني بوډئ عجيبه امداد

د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډير مشهور كرامت دے چې يوه ورځ هغوئي د دريائے دجله غاړې ته تشريف يوړلو، اوئې ليدل چې يوه بوډئ د درياب په غاړه ناسته ده او ډيره زياته ژاړي. حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خادم ته اوفرمائيل: معلومات اوكړه چې د دې بوډئ څه پريشاني ده. خادم عرض اوكړو: حُضُورا! د دې بوډئ يو ځوئ وو، په ډير شان و شوكت سره ئې د هغه د واده اهتمام كړے وو، جنج د درياب بلې غاړې ته تلے وو، د فارغيدو نه پس د واده ځلمي خپله ناوې ځان سره كړه او جنج د كشتئ په ذريعه بيرته راتللو چې پوره كشتئ د جنج سره په درياب كښې ډوبه شوه، د دې واقعے 12 كاله شوي دي خو د دې بوډئ په زړه كښې د خپل ځوئ غم تر اوسه پورې تازه دے، دا دغه شان دلته راځي، ژاړي او نا اُميده بيرته كورته لاړه شي.

---

1 ... بهجة الاسرار، صفحه:198۔

د بوډۍ د غم نه ډكه قِصَّه ئې چې واوريدله نو د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بوډۍ باندې ډير رحم راغے، هغوئي د الله پاك په باركاه كښې لاس اوچت كړل، په ډيره عاجزۍ ئې دُعا اوكړه: مولٰى! د دې بوډۍ د ځوئ ډوب شوي جنج ته نوے ژوند عطا كړې. الله پاك د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دُعا قبوله كړه او د 12 كالو ډوبه شوي كشتۍ د ناوې، ناوك او جنج سره په درياب كښې ښكاره شوه او په لږ ساعت كښې غاړې ته راغله.

د جنج ټول خلق د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې حاضر شو دُعاګانې ئې واخستې، او په خوشحالۍ خوشحالۍ خپلو كورونو ته لاړل، د دې كرامت په اوريدلو بيشميره كافران راغلل او د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په لاس ئې اسلام قبول كړو.[1]

اے عاشِقانِ رسول! خومره غټ كرامت دے، يقيناً د دې په لوستلو، اوريدلو بے اختياره په ژبه سُبْحٰنَ اللّٰه! راځي، آخر د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه كرامت دے، خو لږ غور اوكړئ! حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا كرامت ولے اوښودلو؟ 12 كاله ډوب شوے جنج ئې بيا ولے راويستلو؟ صرف د يوے بوډۍ د ستركو نه بهيدلو اوښكو اُودرولو او هغې سره همدردې كولو د پاره.

اے قادريانو! اے د غوثِ پاك سره محبت لرونكو! اےعاشقان اولياء! داسې دُعا كول او د الله پاك نه د خپلې خبرې قبولِيَت حاصلول، 12 كاله مخكښې ډوبه شوې كشتۍ راويستل، دا د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شان دے خو غور اوكړئ! كه حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يوے بوډۍ باندې رحم اوكړو او 12 كاله مخكښې ډوبه شوي كشتۍ ئې راويستله نو آيا مونږه ځان ته قادريان وئيونكي، د غوثِ پاك او نورو اولياؤ سره محبت

[1] ... مُنّے كى لاش، صفحہ: 7 خُلاصةً۔

لرونكي د غريبانو مدد د نه شو كولے؟ آيا مونږه غريبانو سره د خپلې خُلے نوړئ نه شو تقسيمولے؟ آيا مونږه په ورږو خلقو باندې روټۍ نه شو خوړلے؟ آيا مونږه د يتيمانو په سر باندې لاس نه شو ايښودلے؟ آيا مونږه د غريبانو سره په مُسكا خبرې نه شو كولے؟ آيا د هغوئي د عِزَّت خيال نه شو ساتلے؟ آيا مونږه د غريبانو په حق كښې دُعا نه شو كولے؟ يقيناً كولے شو خو افسوس! مونږه داسې نه كوو، آه! نن زمونږ په مُعاشره كښې غريبان اُوږي دي، د هغوئي څوك تپوس نه كوي، بعضې وخت مور و پلار د غريبئ، تنګدستئ نه تنګ شي او خپل بچي مړه كړي او بيا پخپله خود كُشي اوكړي، خو مونږ په خپل عيش و عشرت كښې څه كمے راوستل نه غواړو چې د هغوئي مدد اوكړو، نفلي صدقه و خيرات هم نه كوو، او په چا چې زكوٰة فرض وي هغه پوره زكوٰة هم نه اوباسي. په مُعاشره كښې غُربت، تنګدستي، غم، تكيف، پريشانئ زياتيږي او بل طرف ته د همدردئ، خيرخواهئ، غمخوارئ او سخاوت جذبه هم كميږي. لږ غور اوكړئ! زمونږ بُزُرګانِ دين به د تكليف په وجه د بندګانو د سترګو نه وتلو اوښكو باندې هُم رحم كولو او څنګه څنګه كرامتونه به ترينه ظاهريدل او مونږه كه د يو غريبي معمولي شان مدد اوكړو نو هُم د امداد وركولو په وخت كښې هغه پريشان حاله غريبانو سره سيلفيانې او ويډيوګانې جوړوو. بالكل داسې زړه دَردَوُنكي واقعات هُم پيښيږي چې كه يو كس د غريب مالي مدد كوي، يا ورته راشن وركوي، د خوراك څښاك څيزونه وركوي نو اَته، لس كسان د هغه سره يو ځائے تصويرونه جوړوي او بيا ئې په سوشل ميډيا باندې خلقو ته داسې ښائي چې ګويا دې ټولو د دې غريب كس مدد كړے دے، غور اوكړئ! په داسې موقع باندې به په هغه غريب څه تيريږي...؟ ځكه چې غريب هُم عِزَّت لري هغه هُم دا خوښوي چې كه څوك زما مدد كوي نو په پټه دِ ئې كوي، ما دِ دُنيا ته نه رُسوا كوي.

چې كله زمونږه دا حال دے چې مونږه د خپلو بُزُرګانِ دينو د سيرت بالكل مُخالِف روان يُو، د هغوئي په ښودلو شوو طريقو عمل نه كوو، نو زمونږ د مُعاشرے حال هم اوګورئ! نن خلق د آرام په لټون كښې اخوا ديخوا ګرځي، په مُعاشره كښې افراتفري زياتيږي، تنګدستي ده، د كورونو آرام برباد دے، پريشانئ جنګ جګړے، بيروزګاري، قتل و غارت، بےحيائي، ډير څه زمونږ په مُعاشره كښې كيږي، يو خوشحاله ښكاره كيدو والا كس څان سره كښينوئ او لږ د حال تپوس ترينه اوكړئ! د هغه زړه به دننه د غمونو او تكليفونو نه ډك وي....! په پوره دُنيا نظر واچوئ! مسلمانان مخ په ښكته روان دي، ظُلمونه پرې كيږي، نور قومونه مسلمانان كمزوري كوي؟ آخر داسې ولے كيږي؟

دا په دې وجه چې مونږ د خپلو بُزُرګانِ دينو په سيرت باندې عمل پريښودے دے، يقين اوكړئ! مونږ له د خپلو بُزُرګانِ دينو پاكيزه كردار نه رهنمائي اخستل پكار دي، د خپلو بُزُرګانو د ژوند تيرولو طريقو نه رنړا اخستل او د هغې په ذيعه د خپلې مُعاشرے نه تِيارے لرې كول پكار دي، په دې كښې زمونږه خير دے، كه مونږه د خپلو بُزُرګانِ دينو په سيرت عمل اونكړو، د غير مسلمو په طريقو روان شو نو ياد ساتئ!

نہ سمجھو گے تو مٹ جاؤ گے اے جہاں والو | تمہاری داستاں تک نہ ہو گی داستانوں میں

يعنې كه څان مو اونه پيژندلو اے د جهان خلقو! [يعني اے مسلمانانو!] نو بيا به ستاسو قِصے په قِصو كښې هُم پاتې نه شي، مطلب دا چې نوم او نشان به مو ختم شي.

## سوشل ويلفئير او دعوتِ اسلامي

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي خلقو ته د دِين خبرې ښائي، لمُونځ ورزده كوي، د روژو، حج او زكوٰة احكام ورزده كوي، د سُنَّتو عامِل ئې جوړوي، د

نيکۍ دعوت ورکوي، نيك لمُونځ ګزاره ئې جوړوي او همدردي ورسره کوي، د دې سره سره د دعوتِ اسلامي يو ډيپارټمنټ **FGRF**- (يعنې فيضان، ګلوبل، ريليف فنډ) هُم دے. د دې ډيپارټمنټ بنيادي مقصد د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دردمند اُمَّت سره همدردي، غمخواري کول، ناڅاپه راتلونکي آفت مثلاً **الله** پاك دِ نکړي که زلزله راشي، سيلاب راشي نو فوراً په امدادي کارونو کښې حِصَّه اخستل دي.

اے عاشِقانِ غوثِ اعظم! تاسو ته که دا معلوم شي نو ډير زيات به خوشحاله شئ چې د دعوتِ اسلامي ډيپارټمنټ **FGRF** زير اهتمام ❁ په ستمبر 2021 کښې تقريباً په 39 زره خلقو باندې تيار خوراك تقسيم کړے شو ❁ په کورنګي ابراهيم حيدري (کراچئ) کښې په غريبانو کښې ❁ سُرجاني (کراچئ) کښې د باران نه مُتاَثِّره شوي تقريباً 350 کورونو کښې راشن او خوراك تقسيم کړے شو ❁ په شلو نوي مسلمان شوو کورونو کښې راشن تقسيم کړے شو، په ټول ملك کښې تر اوسه پورې تقريباً 992 نه زيات کوهيان ويستلې شوي دي او په هغې باندې سولر پمپونه لګيدلي دي ❁ تهيليسيميا او نورو مرضونو کښې اخته خلقو د مدد د پاره تر اوسه پورې تقريباً 48 هزار 60 د وينې بوتلې (***Blood Bags***) مختلفو ادارو ته ورکړے شوي دي ❁ جُزوي معذورو ماشومانو د علاج د پاره اَلْحَمْدُ لِلّٰه! [فيضان رِي هَيبي لي ټيشَن سينټر] ***Faizan Rehabilitation Center*** (*F.R.C*) جوړ کړے شوے دے، په دې کښې تقريباً د دوو زرو نه زياتو ماشومانو رجسټريشن شوے دے.

دغه شان د دعوتِ اسلامي يوه شعبه "**روحاني علاج**" هم ده. د دې شعبے تحت د غم وهلو پريشان حاله، تنګ دسته، بيمارو خلقو فِيْ سَبِيْلِ الله روحاني علاج کيږي. تاسو هم د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره وابسته شئ، د اُمَّت د خيرخواهئ، همدردئ او رحم دلئ په دې ديني کار کښې د دعوتِ اسلامي سره مرسته اوکړئ. **الله** پاك دِ مونږ

تولو ته د عمل کولو توفيق را عطا کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (نصيحت: 3) ژوند غنيمت اوګڼړئ....!

لسم شَوالُ المُكَرَّم 545 هجري، د اتوار ورځ وه، د سحر په وخت حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله مدرسه کښې بيان اوکړو او د بيان شروع ئې د يو حديثِ پاك نه اوکړه، اوئې فرمائيل:

د **الله** پاك د آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: مَنۡ فُتِحَ لَهٗ بَابٌ مِّنۡ خَيۡرٍ فَلۡيَنۡتَهِزۡهُ فَاِنَّهٗ لَا يَدۡرِیۡ مَتٰی يُغۡلَقُ عَلَيۡهِ د چا د پاره چې د خير دروازه بيرته کړے شي نو هغه له پکار دي چې فوراً د خير په دغه دروازه کښې داخل شي ځکه چې هغه ته معلومه نه ده چې دا دروازه به د هغه د پاره کله بنده کړے شي.[1]

د دې حديثِ پاك بيانولو نه پس حُضُورِ غوثِ پاك، شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: اے خلقو....! ور منډې کړئ...! تر څو پورې چې د ژوند دروازه بيرته ده، خپلې ساګانې غنيمت اوګڼړئ! عنقريب دا دروازه به بنده کړے شي. تر څو پورې چې په تاسو کښې طاقت و هِمَّت دے، نيك اعمال غنيمت اوګڼړئ! تر څو پورې چې د توبے دروازه بيرته ده، دا غنيمت اوګڼړئ! د دُعا دروازه بيرته ده، دُعا غوښتل غنيمت اوګڼړئ! د نيکو خلقو په صحبت کښې د کښيناستلو دروازه بيرته ده، دا غنيمت اوګڼړئ!

اے خلقو! تاسو چې کوم نقصان کړے دے، هغه پوره کړئ! کوم (د ګناهونو ناپاکي) مو چې په لمَن لګيدلې ده، هغه اُووِينځئ! کومې بدئ مو چې کړې دي، هغه سمې کړئ...! په زړه مو چې کوم د ګناهونو تور والے پروت دے، هغه پاك کړئ! کوم

---

[1] ...زُہد لابن مبارک، صفحه:76، حديث:117۔

چې تاسو [د چا مال ناحقه] اخستے دے، هغه بيرته ورکړئ! د خپل مالك و مولٰى د نافرمانئ نه را اوګرځئ...! د الله کريم په دروازه حاضر شئ...! صرف الله خالق و مالِك دے، که تاسو د ده په در حاضر ئې نو د ده بندګان ئې، که تاسو مخلوق طرف ته مُتَوَجِه ئې (مثلاً مال و دولت ګټلو کښې لګيدلي ئې او د دې په وجه د **الله** پاك در ته نه حاضريږئ، **الله** پاك مو هير کړے دے، نو تاسو د **الله** پاك بندګي نه کوئ بلکه) د مخلوق بندګان جوړ شوي ئې.

اے انسانه! سُستي مه کوه! ځکه چې سُستي د هميشه محرومئ او پښيمانتيا سبب ده. خپل اعمال ښه کړه...! **الله** پاك به دربانديې په دُنيا و آخرت کښې اِنعام اوکړي.

حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل بيان کښې نور اوفرمائيل: د قيامت په ورځ به انسان په دُنيا کښې کړي خپل ښه او بد اعمال راياد کړي، خو هغه وخت به پښيمانتيا څه فائده نه ورکوي، فائده خو په دې کښې ده چې د مرګ نه مخکښې قيامت راياد کړي...! د ميوو راشُوکولو په ورځ د تخم کرلو وخت يادول څه فائده نه ورکوي.

په حديثِ پاك کښې دي: دُنيا د آخرت کروَنده ده، څوك چې دلته د نيکو تخم اوکري، د قيامت په ورځ به په خوشحالئ خوشحالئ ميوه حاصله کړي او څوك چې په دُنيا کښې د بدئ تخم نال کړي، د قيامت په ورځ به شرمنده وي. غوثِ پاك نور اوفرمائيل: (اے خلقو!) کله چې تاسو ته مرګ راشي، تاسو به د غفلت د خوب نه را بيدار شئ خو هغه وخت بيداريدل به څه فائده درنکړي.

اے انسانه! د بدو خلقو صُحبَت ته د نيکو خلقو نه بدګمانه کړے ئې. د **الله** پاك د کتاب او د مُصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو په رنړا کښې ژوند تير کړئ! کاميابي به ستاسو قدمونه ښکل کړي. د **الله** پاك نه داسې حيا اوکړئ، څنګه چې هغه نه د حيا کولو حق دے. په غفلت کښې خپل وخت مه ضائع کوئ...! تاسو په هغه مال جمع

کولو کښې مصروف ئې، کوم چې تاسو نه استعمالوئ، هغه خوبونه وينئ، کومو ته چې تاسو نه شئ رسيدے، هغه کورونه جوړوئ په کومو کښې به چې تاسو (هميشه) نه اوسيږئ او دې ټولو خبرو تاسو د **الله** پاك په دربار کښې حاضريدو نه غافِله کړي ئې.

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور اوفرمائيل: په دې کښې هيڅ شك نشته چې ټولې نيکئ د **الله** پاك سره دي او بدئ ټولې د غيرُ الله (يعني د **الله** پاك دُښمنانو) سره دي، خير مو په دې کښې دے چې د **الله** پاك په دربار کښې حاضر شئ...! د **الله** پاك د در نه تښتيدل صرف بدي ده.

اے خلقو! په تاسو لازم دي چې (1) مرګ ياد کړئ! (2) په مُصيبت باندې صبر اوکړئ! (3) او په هر حال کښې په **الله** پاك باندې تَوَکُّل ساتئ...! چې کله دا درې اوصاف په تاسو کښې پيدا شي نو تاسو ته به مرګ په داسې حالت کښې راشي چې د مرګ يادولو په سبب به تاسو عبادت ګزار جوړ شوي ئې، د صبر په ذريعه به تاسو د **الله** پاك نه غوښتونکي انعامونه حاصل کړئ او د تَوَکُّل په ذريعه به ستاسو تعلق د **الله** پاك سره مضبوط شي.

## (3) دِين ته نقصان رَسَوونکي ځلور خبرې

په 12 شَوَالُ المُکَرَّم 545 هجري د ماښام په وخت حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله مدرسه کښې بيان اوفرمائيلو: ستاسو د دِين نُقصان په ځلورو خبرو کښې دے:

(1) تاسو په خپل علم باندې عمل نه کوئ (2) د څه عِلم چې نه لرئ هغه کوئ (مثلاً د ناپوهئ په وجه ګناهونه نيکئ ګنړئ او نيکئ ګناهونه ګنړئ) (3) په څه چې نه پوهيږئ هغه نه زده کوئ (يعني کوم عِلم چې نه لرئ، د هغې د زده کولو کوشش نه کوئ، لِهٰذا بے علمه پاتې شئ) (4) د خلقو د پاره د علمِ دين په لاره کښې رکاوټ جوړيږئ.

اے خلقو! ستاسو دا حال دے چې د علم ذِكر و فِكر محفل ته كله ځئ، په استقامت سره نه ځئ او چې كله د بيان كوونكي بيان اورئ نو د هغې نه نصيحت نه اخلئ بلكه په هغې كښې غلطيانې راوباسئ، خاندئ وريورې، ټوقې وريورې كوئ، د دې خبرو نه توبه اوكړئ! د **الله** پاك د دُښمنانو په شان مه جوړيږئ! څه چې اَورئ د هغې نه نصيحت حاصل كړئ! په تاسو باندې لازم دي چې نيكي اوكړئ او په اخلاص سره ئې اوكړئ. **الله** پاك فرمائي:

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِیَعْبُدُوْنِ۝۵۶
(پاره:27، سورۂ ذاريات:56)

**مفهوم ترجمه:** او ما پيريان او انسانان صرف د دې د پاره پيدا كړي دي چې زما عبادت اوكړي.

د دې آيت تلاوت كولو نه پس حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: **الله** پاك پيريان او انسانان د نفساني خواهشاتو د پاره نه دي پيدا كړي، د لوبو، خوراك، څښاك او اوده كيدو د پاره ئې نه دي پيدا كړي. اے غافلو انسانانو! د خپل غفلت نه بيداره شئ...! تاسو خو په داسې غفلت كښې پراته ئې چې ګويا تاسو به هډو مرئ نه، ګويا تاسو به د قيامت په ورځ هډو راپاڅئ نه، ګويا د **الله** پاك په بارګاه كښې به ستاسو نه هډو حساب نه اخستے كيږي، ګويا تاسو به په **پُل صِراط** باندې هډو تيريږئ نه؟ دا خو ستاسو حال دے...! او تاسو د مسلمانئ دعوىٰ كوئ...!

ياد ساتئ! دا قرآنِ كريم دے، كه تاسو په دې باندې عمل اونكړو نو په ورځ د قيامت به دا ستاسو خلاف دليل وي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**اے عاشقانِ رسول!** د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه څنګه عبرتناك او د غفلت نه رابيداروونكي نصيحتونه دي، حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه زمونږه پير دے، پيرانِ پير

دے، **اللہ** پاک دِ مونږ ته په دې نصيحتونو باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: 72 نيك اعمال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اسلام تعليمات زده کولو، په هغې باندې د عمل کولو، په نيکو باندې ثابت قدمي حاصلولو او د مرګ نه مخکښې د مرګ د تيارئ ذِهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رَسُول دينى تحريك دعوتِ اسلامى ديني ماحول سره وابسته شئ او 12 ديني کارونو کښې د زړه په اخلاص سره حصه واخلئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰه د دې په برکت به تاسو ته د دين و دُنيا ډيره فائده نصيب شي. د ذيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "72 نيك اعمال" دي. د دې مطابق هره ورځ غور و فِکر کوئ او د اسلامي مياشتې په يکم تاريخ د خپلې علاقے ذِمه دار ته د مدني انعاماتو رساله جمع کوئ.

"72 نيك اعمال" د عاشِقِ غوثِ پاك، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه عطا کړي د نيك جوړيدو بهترينه نُسخه ده. پاپندئ سره د "72 نيك اعمال" رساله ډکولو سره د نيکو کولو او ګناهونو نه د بچ کيدلو ذِهن جوړيږي او په کردار کښې واضحه تبديلي راځي.

## د نيك جوړيدو زبردسته فارمولا

د کراچئ د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زمونږ د جمات امام صاحب چې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره تعلق لري، هغوئ يوه ورځ زما مشر ورور ته د 72 نيك اعمالو رساله په تحفه کښې ورکړه، هغوئ [رساله] کور ته راوړه، او اولوستله ئې نو حيران پاتې شو چې په دې مختصره رساله کښې يو مسلمان ته د اسلامي ژوند تيرولو

څومره زبردسته فارمولا ورکړے شوي ده. د 72 نيك اعمالو رساله ميلاويدلو په برکت د هغوئي په ژوند کښې انقلاب راغلو، هغوئي ته د لمُونځ جذبه نصيب شوه او د جَمعې لمُونځ ادا کولو د پاره جمات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته لمُونځ گزاره جوړ شوے دے، مخ ئې هم په گيره مبارکه ښائسته کړے دے او د 72 نيك اعمالو رساله هم ډکوي.[1]

| | |
|---|---|
| مدنی اِنعامات کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی | یااِلٰہی! خوب برسا رحمتوں کی تُو جھڑی |

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې اوس "مدني انعاماتو" ته"نيك اعمال"وئيل کيږي.

## اَلْقُرْآن مَعَ تفْسِيْر ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د دعوتِ اسلامي د مجلس آئي. ټي ډيپارټمنټ له طرفه يو زبردست موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوے دے،

*Quran with Tafseer* (اَلْقُرْآن مَعَ تفْسِيْر). په دې ايپلي کيشن کښې قرآن کريم، ترجمهٔ کنز الايمان، ترجمه کنز العرفان او تفسير **صِراطُ الْجِنان** شامل دي. تاسو دا موبائل ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، قرآنِ کريم، ترجمه او تفسير اولولئ، ځان پرې پوهه کړئ او د دې برکتونه حاصل کړئ او نورو ته ئې هم ترغيب ورکړئ.

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د **الله** پاك رحمت وي، عرض

[1] ...جنت کے طلب گاروں کے لئے مدنی گلدستہ، صفحہ:14۔

اوكړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت كوونكي او نورو ته زده كوونكي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ګرځيدلو سُنتونه او آداب

فرمانِ مُصطفے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: يو كس دوه څادرې اچولې ګَرَه [يعنى په فخر] روان وو او په تَكَبُّر كښې وو، هغه په زمكه كښې خخ كړے شو، هغه به تر قيامته پورې مسلسل خخيږي. (صحيح مُسلِم ص١١٥٦ حديث٢٠٨٨)

**د ګرځيدلو دوه سنتونه:** (1) حضورِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به بعضې وخت په روانه كښې د كوم يو صحابي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ لاس په خپل لاس مبارك كښې اونيولو. (المعجم الكبير للطبرانى ج٧ ص١٦٢) (2) رَسُولِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې روان وو نو مخې طرف ته به لږ شان تِيټ شوے تلَلو، لكه د بره نه چې راكوزيږي. (الشّمائل المحمّدية للترمِذى ص٨٧ رقم١١٨)

**د ګرځيدلو شپږ آداب:** (1) په غاړه كښې د سرو زرو يا د هر قسم اوسپنې زنځير اچولے، خلقو ته د ښودلو د پاره خلاص ګريوان په تَكَبُّر هيڅ كله مه ګرځئ، ځكه چې دا د كم عقلو، كبرژنو او فاسِقانو ګرځيدل دي. په غاړه كښې د سرو زرو چَين يا بريسليټ (Bracelet) اچول د نارينه د پاره حرام او نور د هر قِسمه اوسپنې هم ناجائِزه دے. (2) په لاره تللو كښې پريشان نظرې (يعني بے حاجته اخوا ديخوا كتل) سُنَّت نه دي، نظر ښكته ساتئ او په وقار [يعني احترام] سره ځئ. (3) د چا د كور بالكونې [ګيلرئ] يا كړكئ طرف ته بے ضرورته كتل مناسِب نه دي. (4) احتياط كوئ چې په

[1] ...جامع بيانِ عِلم، بَابُ: عِلم کے فضائل، جلد: 1صفحه: 201، حديث: 220۔

ګرځيدو يا په پوړو ختلو کوزيدلو کښې د پيزار آواز نه پيدا کيږي، زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د پيزار "دَرَب" خوښ نه وو. (5) بعضې خلق چې په لار روان وي نو د هغوئي عادت وي چې کوم څيز هم مخې له ورځي هغه په لتو وهي، دا قطعاً غير اخلاقي طريقه ده، په دې کښې د ښپو د زخمي کيدو هم خطره وي، او اخبارونه يا د ليك والا ډبې، پيکټې او د مِنرل واټر خالي بوتلې وغيره په لتو وهل بے ادبي هم ده (6) که څه رُکاوټ نه وي نو د لارې په غاړه غاړه درمياني رفتار سره ځئ، نه دومره تيز چې خلق وائي چې دا چرته په منډه منډه روان دے او نه دومره په قلاره چې خلق مو بيمار اوګڼړي۔

اے زمونږه خوږه الله عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د خپل پاك حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق د درميانه او د تڪبُّر نه پاك ګرځيدلو توفيق راکړې او مونږ ته د لارې په يو طرف، اخوا ديخوا کتلو نه بغير د نظر ښکته ساتلو سره په شريفانه انداز کښې د ګرځيدلو توفيق راکړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴾5﴿ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

3... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵